آصف بهاند

۲۰۱۶/۰۷/۱۱

# او زموږکور یوه ډیوه نه لري

خه راغله،

او خه راځي

زه چیرته

او ته چیرته

زه په رڼاوو،

ته تیاروکي اوسي

دغه تیاره او رڼا

یو د بل مخ ته په ټینګار ولاړ دي

زه چیرته،

او ته چیرته

ته د رڼا وطن کي

تیارو، غمو ته ناسته

او مات غږونه دي هوا ته درومي

زه د شنیلیو بارانو جنت کي

یو وچ ګودر ته ناست یم

ستونی مي چیغو را لوی کړی

غږ مي هیڅوک نا وري

زه د رڼا په ښار کي

یوه رڼا کوټه هم نه لرمه

د زړه انګړ کي مي تیاره ده

د شپي لاس مي پراوږو باندي دروندوالی کوي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

دلته لوی ښارکي په هر لور رڼا ده

او زموږ کور یوه ډیوه نه لري

٢٠٠٠/٠٧/٠٧

فریدریکس هاون

ډانمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ